AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۰۲/۰۳

# شرم

دلته ځوک چاته
د زړه کنډولی نه شي تشولی
دلته هر یو خپل ګریوان تر خپل څادر  لاندي پټ ساتي
د زړه درد چاته ویل
لکه څوک د چا له لاسه ډوډی غلا کړي
، هسي شرم دی ګناه ده
هر سړی غواړي خپل غم
لکه څراغ د تورو شپو غیږ کي ویده کړي
او که اوښکه یي له ګوتو  لاندي پریوزي وایی داهم نارینه دی ؟
نارینه هم چا لیدلی چی وژاړي ؟
نو پیړی شوي زه او زړه می
داوړه یوځای خپه ناست یو
لکه نیمه سوی شمعه
چی نه مري او نه هم توان د سوزیدو لري نور زړه کی.
کله کله
نارینه پاتی کیدل هم څومره سخت وي
کټ مټ لکه غر باید واوسی
بویه چیغي دې په موټي کي بندي کړې
او
پرې نوم د صبر کیږدې
دا نړی هم عجیبه ده
هیڅ قوي ته دا حق نه ورکوي مات شي




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ